**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي هیئت**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹**
**بریښنا لیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی(یوناما) او د روغتیا نړیوال سازمان ګډه وینا، چي په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی کای آیده او پیتر ګراف په افغانستان کي د روغتیا د نړیوال سازمان د استازی ته منسوب دی.**

نن سهار په نهو بجو او څلویښتو دقیقو د ملګرو ملتونو یو څمکني کاروان په سپین بولدک کي د یو ځانمرګی برید موخه و ګرځید. د کاروان دري تنه کارکوونکي ووژل شول. یو ګڼ شمیر لارویان هم ټپیان شوي او موږ کوښښ کوو چي د مرستو رسولو پر مهال د هغوي د حالت په هکله بشپړ معلومات تر لاسه کړو.

هغه کسان چي په دغه کاروان کي یي خپل ژوند له لاسه ورکړي، د یوناما یو تن چلوونکی او د روغتیا د نړیوال سازمان دوه تنه ډاکتران دي چي په افغانستان کي د ګوزن د ناروغی پر ضد یي مبارزه کوله. دري واړه افغانان وو.
په تیرو ساعتونو کي موږ د قربانیانو د خپلوانو سره په تماس کي وو. په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د سازمان د کورنی د غړو تولي اندیښنه د وژل شویو کسانو او د هغوي د مینی وړ کسانو سره ده. دغه له تصور او فکر څخه لیری برید د هغو بیګناه ملکی وګړو پر ضد دی چي یوازی د افغانستان د خلکو لپاره یي کار کولو.
د سپتمبر ۱۴ کال ۲۰۰۸